د پوهنې وزارت
د تضمین کیفیت معینیت
د پوهنی وزارت د معلوماتو دمدیریت د سیستم ریاست(EMIS)
د احصائیه او معلوماتو د تحلیل آمریت



# دپوهنی وزارت
# د احصائیوی تحلیلونو کتاب

کال - 1398

# سريزه

ددې لپاره چې د ښوونې او روزنې په ټولو برخو( کيفيت، برابر لاسرسی، مؤثر، اغيزناک روڼ او حساب ورکونکي مديريت) کې دقيق پلانونه جوړ شي او منابع په سم او مناسب ډول سره توزيع کړو اړينه ده چې دقيق او پر وخت معلومات د تعليمې نهادونو څخه را ټول، ذخيره، ترتيب او تنظيم کړو ترڅو د اړينی څیړنې او تحليل څخه وروسته د اړونده شريکانو سره شريک شي.

په همدې اساس د پوهنې وزارت د معلوماتو د سيستم رياست (EMIS) اړوند د احصائيه او معلوماتو د تحليل آمريت د 1398 هـ ش کال د ټولو تعليمې نهادونو څخه ارقام او احصائيوی معلومات د يونسيف په مالي همکارئ او د تعليمي نظارت د غړو په مرسته را ټول او بيا په ولايتونو کې د پلان او احصائې مديريت د همکارانو په واسطه د چک او بررسی څخه وروسته په سيستم کې ثبت او انتري شول چې دادی د دې تحليلي کتاب په بڼه چې د پنځو برخو(شاگردان، ښوونکي ، تعليمي مرکزونه، بنستيز سهولتونه او تعليمې شاخصونه) کې ترتيب شوی او آماده شوی دی ترڅو د پلانونو په ترتيب ، د منابع په تخصيص او تصميم نيونه کې ترينه گټه واخستل شې.

نوموړی کتاب د 1398 کال کې د افغانستان د پوهنې وضعيت د متوازن لاسرسي ، کيفيت او مؤثر مديريت له اړخه ښيې او بيانوی.



# مننه او درناوی

پدې اساس د احصائی او معلوماتو د تحلیل آمریت د خپلو درنو او قدرمنو متخصیصینو او احصائیوی تحلیگرانو هریو اجمل شرر، محمد شفیق صدیقی، محمود مهربان، محمد حسین عادلی، محمد عاکف رسولی او فرهاد احمد اولیاخیل څخه د زړه له تله مننه کوی چې د دې کتاب په ترتیب، دارقامو په تحلیل، د ګرافونو او نقشو په ډیزاین کې یی هڅه او همکاری کړیده

همدارنګه د پوهنی وزرات د معلوماتو د مدیریت د سیستم د محترم رئیس قدرمن میرویس احمدزی د مستقیم حمایت او بهترینې رهبرۍ او همداشان د احصائې او معلومات د آمریت د نورو ټولو درنو همکارانو له همکارۍ څخه چې ددې کتاب د احصائې په راټولو ، ثبتولو او پاک کولو(Data Cleaning) کې یې فعاله همکاري او همغږي درلوده د زړه له تله مننه او د خدای ج څخه یې همیشه موفقیت او کامیابي غواړو.

د احصائي او معلوماتو د تحلیل آمریت



# لنډیز

په 1398 هـ ش کال کې د ټول ټال 18,765 بابه تعلیمي مرکزونو څخه 17,997 بابه تعلیمي مرکزونه فعال وو چې د تیر کال په پرتله 4 ٪ سلنه زیاتوالی ښيي. د بلې خوا په 1398 کال کې په ټول هیواد کې 768 بابه تعلیمي نهادونه تړل شوي دي. چې د تیر کال په پرتله 2٪ سلنه کموالی پکښې را غلی دی. د یادولو وړ ده چې په همدې کال کې د ټولو تعلیمي نهادونو 12 سلنه خصوصي تعلیمي نهادونه تشکیلوي. چې دا په حقیقت کې د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور وده په ګوته کوي.

په ټول هیواد کې په تعلیمي مرکزونو کې په ټولیز ډول سره 10,017,925 تنه زده کوونکی چې 6,201,132 تنه یی هلکان او 3,816,793 تنه یې نجوني زده کوونکی دی په زده کړه بوخت دی چې دا رقم د تیر کال په پرتله 4 سلنه ډیروالی ښیی. او د یادولو وړ ده چې د ښځینه زده کوونکو د ډیروالی وده یا رشد د نارینه زده کوونکو په پرتله بهتر او یا ښه دی

همدا شان پدی تعلیمي مرکزونو کې 233,513 تنه ښوونکی چې 147,187 تنه یی نارینه او 86326 تنه یې ښځینه دي په دولتي او خصوصي تعلیمي مرکزونو کې په تدریس بوخت دي. چې د تیر کال په پرتله 2 سلنه زیاتوالی ښيي. مګر ددې پر سر په ټولو دولتی تعلیمي مرکزونو کې 85,576 تنه ښوونکی کمبود دي.


د یا د ولو وړ ده چې 80 سلنه فعال دولتي تعلیمي مرکزونه یی تعمیر( 58 سلنه دایمي او 22 سلنه موقتي) لري او 20 سلنه یې تعمیر نلري. همدا شان د ټولو دولتي فعالو تعلیمي مرکزونو له جملې څخه 56 سلنه یې اوبه او 49 سلنه یې تشنابونه لري.





# د زده کوونکو معلومات

## د زده کوونکو شمولیت د مالکیت په توپیر – کال 1398





## د زده کوونکو شمولیت د برنامې او جنسیت په توپیر – کال 1398





| | عمومي زده کړې | اسلامی زده کړې | د ښوونکو روزنه | لیک لوست زده کړې |
|---|---|---|---|---|
| هلکان | 5,920,157 | 254,063 | 16,414 | 10,498 |
| نجوني | 3,694,584 | 92,330 | 17,568 | 12,311 |

## دټولګی او جنسیت په توپیر د شاګردانو شمولیت- کال 1398




| | لومړی | دوهم | سوم | څلورم | پنځم | شپږم | اووم | آتم | نهم | لسم | یولسم | دولسم | دیارلسم | څورلسم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پسر | 811,056 | 777,919 | 700,680 | 671,331 | 609,540 | 555,265 | 521,831 | 429,794 | 367,709 | 304,423 | 237,973 | 193,339 | 12,182 | 8,090 |
| دختر | 544,401 | 515,585 | 460,118 | 418,491 | 372,953 | 340,446 | 300,095 | 242,721 | 205,281 | 162,264 | 128,807 | 104,482 | 11,714 | 9,435 |
| مجموع | 1,355,45 | 1,293,50 | 1,160,79 | 1,089,82 | 982,493 | 895,711 | 821,926 | 672,515 | 572,990 | 466,687 | 366,780 | 297,821 | 23,896 | 17,525 |


## دزده کوونکوو پایلې د جنسیت په تفکیک – سال 1398




## په لومړي ټولګي کې نوي شامل شوي شاګردان – کال 1398





## د عمومي تعلیماتو زده کوونکی د دورې په تفکیک – کال 1398




| | ابتدائیه | متوسطه | لیسه |
|---|---|---|---|
| نجونی | 2,577,476 | 730,701 | 386,407 |
| هلکان | 3,958,055 | 1,264,982 | 697,120 |

نجونی ■ هلکان ■


## دحاضرو زده کوونکو سلنه د دورې په اساس – کال 1398




## د سن په اساس د زده کوونکو شمولیت – کال 1398




## د تعمیر د نوعیت په اساس زده کوونکی (دولتي) – کال 1398





## په آزاده فضا یا خیمه کې د شاګردانو سلنه ( دولتی) – سال 1398





لکه څرنګه په نقشه کې لیدل کیږي د نیمروز او پروان په ولایت کې هیڅ یو زده کوونکی په آزاده فضا او یا خیمه کې درس نه لولي اما برعکس د غور اولغمان په ولایتونو کې په ترتیب 51 او 41 سلنه زده کوونکی په آزاده فضا او یا خیمه کې درس لولي مګر یوه موضوع د یادولو وړ ده هغه دا چې پروان او نیمروز په ولایتونو کې ټول زده کوونکی په دایمی تعمیر کې درس نه لولي بلکې لا تر اوسه هم په نیمروز کې 26 سلنه او پروان کې 19 سلنه زده کوونکي په موقتي تعمیر( کرائي، مرسته شوی، او یا جومات) کې په زده کړو بوخت دي. پدې آخري کلونو کې ډیر کوښښ و شو تر څو هغه تعلیمي مرکزونه چې تعمیر نلري تعمیر ورته جوړ شي تر څو زده کوونکي وتوانیږي په یوه مناسب محیط کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

## دحاضرو زده کوونکوو سلنه – کال 1398




## هغه ولسوالی چې هیڅ نجونی زده کوونکي نلری – کال 1398





د افغانستان د ټولو ولسوالیو له جملې څخه په 23 ولسوالیو کې هیڅ ښځینه زده کوونکي نشته. چې ډیري(5) ولسوالی یې د غزنی، (4) ولسوالی د هلمند په ولایتونو کې دي او د ارزګان، پکتیکا، زابل په ولایتونو کې درې درې (3) ولسوالی د فراه په ولایت کې 2 ولسوالی او باقیمانده یوه یوه د کندهار، لوګر او فاریاب په ولایتونو کې موجودي دي چې هیڅ ښځینه زده کوونکی پکښې زده کړه نه کوی. اما دا ولسوالی نارینه زده کوونکي لري.

د ارائه شویو ارقامو پر بنسټ آته داسی ولسوالی هم شته چې هیڅ یو زده کوونکی ( نه نارینه او نه ښځینه) نلري. ددې لپاره چې د زده کوونکو شمولیت ډیر شي باید ورته پوره امکانات او سهولتونه ایجاد شي تر څو زده کوونکي په ښوونځیو کې جذب او شامل شي خاصتا ښځینه زده کوونکو لپاره باید ځانګړې توجه او سهولتونه ایجاد شي.



# د ښوونکو معلومات


## ښوونکي د مالکیت په توپیر – کال 1398



دولتی

198,332

85 %



خصوصی

35,181


15 %

## ښوونکي د برنامې او جنسیت په توپیر – کال 1398




| | د لیک لوست زده کړي | د ښوونکو روزنه | اسلامی زده کړي | عمومی زده کړي |
|---|---|---|---|---|
| نارینه | 190 | 2,840 | 7,265 | 136,892 |
| ښځینه | 461 | 350 | 808 | 84,707 |

## ښوونکي د تحصیلي د درجې په توپیر – کال 1398




## د رشتې مطابق کمبود ښوونکي (دولتی) – کال 1398





د ښوونکي د نوی پالیسی د مسوده پر بنسټ د 7،556،795 حاضرو دولتي زده کوونکو لپاره د نفوس او وګړو د تراکم په اساس چي ولایتونه او ولسوالي پکي په نظر کي نیول شوي د هیواد په سطحه 283،908 ښوونکو ته اړتیا ده چي لدي جملي يي د پوهني وزارت د 1398 کال د احصائیوي معلوماتو په اساس 198،332 تنه رسمي ښوونکي په ټولو دولتي تعلیمي مرکزونو کي موجود دي او 85،876 تنه نوي ښوونکي چي ډیر یي د اصولي صنفي (1 نه تر 3 ټولګي) دی باید استخدام شي.

داچي مسلکي ښوونکي د ښوونې او روزنې په کیفیت کي مهم او اساسي نقش لري چي د هغې په بنسټ درس د رشتې په اساس کیږي نو د هیواد د پوهني پر وړاندي د ښوونکو د کموالي ترڅنګ د مسلکي ښوونکو کموالی او د رشتې مطابق د ښوونکو نشتوالی یي بل مهم خنډ دی چي باید ورته جدي توجه وشي. رشتې یا څانګې مطابق د ښوونکو نشتوالی ددې سبب ګرځي څو ښوونکي د رشتې خلاف وګمارل شي او دا امر د درس د کیفیت په لوړوالي باندی منفي تاثیر لري چي د 1398 کال د احصائیه په اساس د ټول هیواد په سطحه 26،620 تنه ښوونکي د رشتې خلاف په تدریس بوخت دی چي ډیر یی د ساینس، صحت او محیط زیست څخه فارغ او ګمارل شوی دی.


دا به ډیره بهتره وي چي د لوړو زده کړو د وزارت سره په ګډ تفاهم ښوونکي د رشتې او اړتیا په اساس برابر او آماده شي او په ښوونځیو کي وګمارل شي تر څو د رشتې په اساس ښوونکي په ټولو ولایتونو باندي تقسیم او تر یوه حده تعادل او توازون برابر شي. همدا شان هغه موجوده ښوونکي چي د خپلې رشتې مخالف تدریس کوي په داخل خدمت برنامو کي شامل او ظرفیت یي لوړ شي.

**د نجونو تعلیمي مرکزونه چې ښځینه ښوونکي نلري (دولتي) – کال 1398**





د 2،314 بابه د نجونو د فعال دولتي تعلیمي نهادونو له جملې څخه 873 بابه چې (37.7٪) سلنه کیږي ښځینه ښوونکي نلري. د یادولو وړ ده چې د هرات او بلخ په ولایتونو کې د نجونو د ټولو فعالو تعلیمي مرکزونو څخه په ترتیب سره 95.3٪ او 94.3٪ سلنه یی ښځینه ښوونکو لري چې د نورو ولایتونو څخه یې وضعیت نسبتاً ښه دی. اما د بل اړخه د زابل او پکتیکا ولایتونو ښځینه تعلیمي نهادونه 100٪ او 78،9٪ سلنه ښځینه ښوونکي نلری چې دې موضوع د نجونو زده کړی تر ډیر تاثیر لاندی کړی دي او سبب کیږي چې نجونی زده کوونکی د متوسطې دورې نه وروسته ښوونځی او تعلیم پریږدی.


## د ښځينه ښوونکو سلنه – کال 1398





## په دولتي تعليمي مرکزونو کې د کمبود ښوونکو سلنه – کال 1398



## هغه ولسوالی چي ښځینه ښوونکی نلري – کال 1398





## د مسلکي ښوونکو سلنه (دولتي) – کال 1398





د یادولو وړ ده چې هغه ښوونکي مسلکي ښودل شوی چه د تحصیل درجه یی 14 یا له هغه څخه لوړه وی.

تعليمي مركزونه


## تعلیمي مرکزونه د برنامې، نوعیت او مالکیت په توپیر – کال 1398





## تعلیمي مرکزونه د مالکیت په توپیر – کال 1398





## تعلیمي مرکزونه د جنسیت په توپیر – کال 1398





## ددرسی شفت په توپیر تعلیمی مرکزونه – کال 1398





## فعال او غیر فعال تعلیمی مرکزونه – کال 1398




## تعلیمی مرکزونو شمیر د ولایات په توپیر – کال 1398





## دخصوصی تعلیمی مرکزونو سلنه – کال 1398



## د غیر فعال تعلیمي مرکزو نو سلنه – کال 1398




## د تعلیمي مرکزونو د اقلیم په اساس ولسوالی – کال 1398



# د زيربنا او سهولتونو

# معلومات


## په تعلیمي مرکزونو کې د سپورټ د میدان معلومات – کال 1398



**لری**
23 %

**نلری**
77 %

## دتشنابونه معلومات د جنسیت په توپیر – کال 1398




## په لیسه او متوسطه ښوونځی کې د کتابخانې معلومات – کال 1398



**لری**
43 %

**نلری**
57 %


## د اوبو معلومات په تعلیمي مرکزونو کې – کال 1398



**لری**
56 %

**نلری**
44 %


## په لیسه او متوسطه ښوونځی کې د لابراتوار معلومات – کال 1398



**لری**
44 %

**نلری**
56 %


## د تعلیمی مرکزونو دبریښنا معلومات – کال 1398



**نلری**
16 %

**نلری**
84 %

## د احاطی دیوال



**لری** – 38 %
**تر کار لاندې** – 2 %
**نلری** – 60 %


## تعمـــــــــیر




**دایمی** – 58 %
**موقت** – 22 %
**آزاده فضا یا خیمه** – 20 %

نوټ : د زیربنا او تسهیلاتو په برخه کې معلومات د فعال دولتي تعلیمي مرکزونو دي.


## هغه تعلیمي مرکزونو سلنه چې ځمکه نلري – کال 1398





## بدون د اوبو څخه د تعلیمي مرکزونو سلنه – کال 1398



## د هغه تعليمي مرکزونو سلنه چې دايمي تعمير لري – کال 1398




## د هغه تعليمي مرکزونو سلنه چې پراختيا ته اړتيا لري – کال 1398





ټول هغه تعليمي مرکزونه چې زده کوونکي يې په دوه درسي شفټونو کې د درس ويلو لپاره ځای نشي پراختيا ته اړتيا لري او د نويو درسي ټولګيو د جوړولو لپاره اړتيا ده

شاخصونه


ناخالص جذب په حقيقت كي د سن په نظركي نيولو پرته ټول هغه شاګردان را په ګوته كوي چي په 1398 کال کې په لومړي ټولګي كي شامل شوی دی او ددی ګراف نه معلوميږی چي په همدی کال کي هم ډير په شرايطو برابري نجوني ښوونځی ته لاسرسی نلري او ناخالص جذب يې د 100 څخه کم دي.

ناخالص شموليت ټول هغه زده کوونکي چي په 1398 کال کي د سن په نظر کي نه نيولو سره په ښوونځی کي شامل وو او داچي د نجونو په برخه کي يي سلنه د 100 څخه کمه ده ددي موضوع ښکارندويي کوي چي تر اوسه پوری هم هغه نجونی چي سن يي د ښوونځی د سن سره برابر دی مګر دوی په ښوونځی کي ندي شامل شوی او يا دښوونځی څخه بهر دی


**ناخالص شموليت او ناخالص جذب– کال 1398**




**دکامياب شويو شاګردانو جنسيتی نسبت د دوری په توپير – کال 1397**





**د عمومی تعليماتو د برنامی د جديدالشمول شاګردانو د جنسيتی برابری نسبت – کال 1398**





په عمومی ډول سره د عمومی تعليماتو د برنامی په لومړی ټولګي کی د جديدالشمولانو جنسيتي نسبت (0.7) دی پدي معنی چي د هرو سلو نارينه زده کوونکو په مقابل کي 70 تنه نجوني زده کوونکي په ښوونځيو کي شامل شويدي مګر د ارزګان ولايت جنسيتي نسبت (0.1) دی چي دا تر ټولو ولايتونو کم نسبت ښايي اما د پنجشير ولايت نسبت 1 دی چي دا پدي برخه کي تر ټولو ولايتونو لوړ نسبت دی.


## دحاضرو زده کوونکو نسبت شعبی ته (دولتی) – کال 1398





## د حاضرو زده کوونکو نسبت ښوونکی ته (دولتی) – کال 1398



## دحاضرو زده کوونکو نسبت مسلکي ښوونکو ته (دولتی) – کال 1398




## د نجونو زده کوونکو نسبت ښځینه ښوونکی ته – کال 1398



## د سروې محدودیتونه

د هیواد د تعلیمي مرکزونو احصایوي سروې د پوهنې د معلوماتو د مدیریت د ریاست(EMIS) له اصلي دندو څخه ده، چې هر کال یې ترسره کوي. اما تر اوسه هم یو شمیر محدودیتونه ددې احصائیوي سروې په پروسه کې شتون لري، چې د پوهنې وزارت د رهبری جدی پاملرنې او توجه ته اړتیا لري ، چې دا محدودیتونه په لاندې ډول ذکر شوي.

1. د تعلیمي نهادونو احصائیوي سروې غیر رسمي ده لا تر اوسه هم رسمي شوی نده چې هر کال په خپل ټاکلي وخت ټاکلي مسؤلین یې سرته ورسوي.
2. د تعلیمي نهادونو احصائیوي سروې لپاره ټاکلی بودجه نشته.
3. د ولایت په سطحه د کافی امکاناتو او وسایلو نشتون.
4. په ځینو والایتونو ، ولسوالیو او ښوونځیو کې د کارمندانو ټیټ ظرفیت.
5. د معلوماتو د راټولو او ثبتولو له پروسې څخه په ولایتونو کې د ځارنې او کنترول نشتون.

## وړاندیزونه

د پوهنې وزارت د احصائیوي سروې د محدودیتونو د مینځه وړلو لپاره د حل لارې په لاندې ډول سره وړاندیز کیږي تر څو د ټولو تعلیمي مرکزونو څخه با کیفیته او پر وخت ارقام او معلومات را ټول او نشر شي اود وقت در ضایع کیدو څخه مخنیوی وشي.

1. د پوهنې وزارت د احصائیوي سروې سند باید د پوهنې وزارت د محترمې رهبری لخوا امضاء شي تر څو دا پروسه خپل ځان ته رسمي بڼه غوره کړي. چې ددې پروسې د رسمي کیدو په صورت کې به د پروسې د کنډوالو یا ذیدخلانو دندې او مسؤلیتونه مشخص کړي او د پروسې تطبیق به آسانه او مؤثر کړي.
2. د پوهنې وزارت رهبري باید ددې احصائیوي سروې د پروسې د سرته رسولو په خاطر یو مقدار بودجه په کلنی عادي بودجه کې شامله کړي. تر څو د ارقامو د را ټولو او نشر کولو د تاخیر څخه مخنیوی وشي.
3. د پوهنې وزارت رهبري باید د ولایتونو د پوهنې ریاستونو سره په همغږی کافي امکانات او وسایل چې ددې مهمې پروسې د بهبود سبب ګرځي آماده کړي.
4. د کارمندانو د ظرفیت لوړولو لپاره ، اړینه ده چې پدې برخه کې روزنیز ورکشاپونه تنظیم شي، او همدارنګه د احصایې د سروې پروسې لاربښودونه او طرزالعملونه په هراړخیز ډول تنظیم او چمتو کړي او د ولایت ، ولسوالی او ښوونځی کارمندانو ته په اختیار کې ور کړی.
5. دا چې د ارقامو او معلوماتو د را ټولو او ثبت پروسه د ولایتونو دپوهنې د محترمو رئیسانو پورې اړوند ده بناً د ولایتونو د پوهنې رئیسان باید د معلوماتو د را ټولو او ثبت څخه په جدې او دقیق ډول څارنه او کنترول وکړي.

د پوهنې وزارت
د تضمین کیفیت معینیت
د پوهنی د معلوماتو د مدیریت د سیستم ریاست (EMIS)
د احصائیه او معلوماتو د تحلیل او څیړنی آمریت

www.moe.gov.af